سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۰/۱۲

غـــزل

مینه هغه وله چې وشوه لاړه ختمه شوله
اوس د رقیب د دې جنګ پای ښه دی

ستا رنځور کړي زړه تپوس کړي یاران
په سینه لاس کېږدم چې وای ښه دی

زه ستا په زړه کې ته زما زړه کې ښه یې
ما ته خپل ځای تا ته خپل ځای ښه دی

د سمندر غاړه په خوا کې دې حسینه ناسته
نری باران ښه او لاسو کې چای ښه دی

د دې مین تعریف له مرګه پس شي
هر یو ارمان یې ای های ښه دی

۲۰۱۹/۱۲/۷ جلالکوټ

یادونه: «ایه ای» د افسوس او ارمان په معنی دی، اردو ژبې او هندیان یې ډېر استعمالوي. لکه: د شاه رخ خان په (دل تو پاګل هې) فلم کې یوه سندره (بولي سي صورت ـ انکهون مي مستي ـ دور کړي شرمايي ـ ای های)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ